بسم الله الرحمن الرحيم

دافغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

تاريخ: ٤/ جمادي الثانية/ ١٤٤٥ هق
مصادف: ٢٧/قوس/ ١٤٠٢ هش

**متحدالمآل نمبر: ۲۵**

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!**

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**

**و بعد: د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدايت په اساس د مرکزي تميز د جزاء ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله «درويش» صاحب او د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست معاون محترم حافظ مولوي عبدالولي صاحب د بنديانو د سرنوشت معلومولو لپاره تعين شوي وو تر څو د مرکزي محبس له منسوبينو سره غونډه جوړه کړي او يو طرزالعمل ترتيب کړي، ټاکل شوي هيئت د ياد هدايت مطابق په (١٤) څوارلس مادو او (٩) نه صفحو مشتمل طرزالعمل ترتيب کړی وو او ياد طرزالعمل د سترې محکمې د مقام د دفتر رياست د مکتوب نمبر (٢٠٩) مورخ ١٤٤٤/٧/١٧هق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته د توشيح لپاره وړاندې شوی وو په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم شميره (٢٩٢٦) مورخ ١٤٤٤/٨/١٨هق مصادف ١٤٠٢/١٢/٢٠هش په اساس داسې هدايت کړی دی:**

**((د بنديانو کړنلاره د ځينو اړينو تعديلاتو سره سم په پنځلس مادو کې منظور ده، تعديل شوې کړنلاره ددې مکتوب سره مل دروليږل شوه.))**

**بناءً د بنديانو کړنلاره چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائيد شوې ددې متحدالمآل مل په (٦) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق اصولي اجرآت تر سره شي.**

**په درنښت**

**مفتي عبدالرشيد "سعيد"**

**د سترې محکمې**

**د دارالانشاء عمومي رئيس**

ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشاء

---


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ٠٢٠٢٣٠٠٠٩٢
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه ، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون : ٠٢٠٢٣٠٠٠٩٢
پست بکس : ١٩٨٩
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af